# د سهېلي پښتونخوا په پښتو حمدیه شاعري کښې د صوفیانه افکارو تحقیقي او تنقیدي جائزه

# A RESEARCH STUDY AND ANALYSIS OF SUFIC THOUGHTS IN HYMN OF PASHTO POETRY IN SOUTHERN PASHTOON KHWA

عبدالولي خان[♣]
ډاکټر عبدالرحمٰن کاکړ[♥]

**Abstract:**

The impact of spiritualism is deeply witnessed on classical Pashto poetry and is also evident on modern Pashto poetry. Hymn is also one of the most significant aspects of Pashto poetry and is usually placed in the very beginning of poetic collections. The tradition of Hymn in Pashto poetry of Southern Pashtoon Khwa is witnessed at large scale but sufic thoughts is rarely found in it. The authors of this paper unveils sufic thoughts in the Hymns of Pashto poetry of Southern Pashtoonkhwa.

**Key words**: Pashto Literature, Pashto Poetry, Hymn, Southern Pashtoon Khwa.

په نړۍ کښې له تاوده بحثونو څخه یو دا بحث هم له څو پېړیو څخه تود دی، چې دا کائنات چا جوړ کړی؟ انسان چا جوړ کړی دی؟ د دې کائنات او خالق په منځ کښې څه ربط شته که نه؟ دا ډول نورې ورته نظریات په نظر راځي. خو په دې کښې تر ټولو مهمه نظریې د خالق کائنات د ذات په هکله دوه ډوله کښې وېشلای شو؛ یوه هغه ډله چې د خالق کائنات د ذات منونکې ډله ده او بله هغه ډله ده چې د الله پاک د موجودیت انکار کوي. نو کومه ډله چې انکار کوي هغه دلته تر بحث لاندي نه راوړل کیږي. هغه څوک چې د ذات الهي په هکله څه ګمان لري د هغوی هم ډېرې ډلې دي. په دې کښې اسلامي شریعت خاموشي خوښه کړې ده خو د علم الکلام او تصوف والاد ذات الهي په هکله بېلا بېل نظرونه لر ي. ځیني لیکوالانو دغه افکار په حمدیه کلامونو کښې ځای کړي دي. خو په دې مقاله کښې یواځې د هغه لیکوالانو د حمدونو تصوفي بڼې په نظر کښې نیول شوي دي چې د هغوی په نور کلام کښې تصوفي افکار راوړل شوي وي. له دې سوبه په سهېلي پښتونخوا کښې داسي لږ لیکوالان شته چې په حمدیه کلامونو کښې تصوفي رنګ هم موندل کیږي.

[♣] M.Phil Scholar, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta
[♥] Lecturer, Department of Pashto, University of Balochistan, Quetta

دلته دا یادونه ضروري ګڼم چې په پښتو ادب کښې د حمد لیکونکو لیکوالانو نظرونه په لړ ډېر توپیر سره هم هغه دي کوم چې د دوی د مسلکونو یا مذهبي فرقو دي. د بېلګې په توګه که د حمد یو لیکوال سني مذهبه وي او د ذات الهي په هکله د خپل مسلک په عقیده خبر وي نو په حمد کښې هم هغه نظر خوروي. دغه ډول که څوک له بلې اسلامي فرقې یا مذهب سره تړلی وي، هغه د خپل مذهب او فرقې نظر په خپل لیکلي حمد کښې وړاندي کوي.

روښاني دوره په پښتو ادب کښې بنیادي کردار لري. په دې دوره کښې د صوفیانه افکارو ډېرې لوی لوی خزانې پرتې دي. د هر روښاني شاعر په شاعرۍ کښې د صوفیانه اصطلاحاتو او ځانګړیو توریو شتون دا په ګوته کوي چې په دې دوره کښې باقاعده د روحانیت اسلامي دپاره په عملي توګه کار شوی دی.

په پښتو ادب کښې د حمدیه کلامونو بنستیز کار په روښاني دوره کښې تر سره شوی دی. هر روښاني لیکوال په خپله شاعري کښې حمدیه کلامونه راوړي دي. ځیني روښانیانو څو څو ځایه حمدیه کلامونه وړاندي کړي دي او په خپلو دېوانونو کښې ځای کړي دي.

تر څو چې د دوی په حمدیه کلامونو کښې د صوفیانه مباحثو خبره ده نو دوی هم د خپل پیر، پیر روښان او روښاني عقایدو په رڼاکښې حمدیه کلامونه لیکلي دي. روښانیان په تصوف کښې عقیدۃ الوجودي مسلک  پېروي کوله ځکه په حمدیه کلامونو کښې هم د عقیده وحدت الوجود بېلګې زیاتې په نظر راځي. چې بېلګې یې د دوی په کلامونو کښې هم په نظر راځي.
د روښاني دورې وروسته د خوشحال خان خټک او د ده د کورنۍ شاعرانو په خپله شاعرۍ کښې حمدیه کلامونه راوړي او په هغه کښې صوفیانه اصطلاحات ځای کړي دي. خو د دوی په حمدیه کلامونو کښې لکه ما چې په تېرو کرښو کښې ذکر کړی دی، هغه ډول عقیده ئې خوره کړې ده لکه څنګه چې مسلک دی.

په حمدیه کلام کښې د زرین دور تر ټولو معتبر او په اولس کښې مشهوره شاعر رحمان بابا دی چې په دیوان کښې حمدیه کلامونه شته. حمدیه کلامونه چې د غزل په چوکاټ کښې وئیلي دي، په ساده او اولسي بڼه کښې دي. د الله پاک ستائینه او صفات یې په خوږه او نرمه لهجه کښې وړاندي کړي. خو

په عقیدوي لحاظ یې د قرآن او حدیث له خوا د ټاکل شوو اصولونو څخه سرغړونه نه ده کړې. یو ځای وايي:

" هسې نه چې واحدي ئې ده له عِجزه　　په واحد صورت بسیار دی رب زما
څهٔ حاجت دی چې وَبل خواته ئې غواړم　　په خپل کور کښې هم کنار دی رب زما
هېڅ تغیر او تبدیل نهٔ لري رحمانه　　تل تر تله برقرار دی رب زما"(1)

د رحمان بابا شاعري کښې مذهبي، اخلاقي او تصوفي افکار راوړل شوي دي. تر څو چې د تصوفي افکارو اړه ده، د ده په شاعري کښې ساده تصوفي افکار په نظر راځي. ډېر پېچلي تصوفي افکار نه لري.

د سهېلي پښتونخوا په پښتو شاعري کښې تصوفي روایت زړې ولګې لري. د پښتو ادب په لومړۍ دوره کښې ځیني شاعران د سهېلي پښتونخوا هم شته. د لومړۍ دورې زیاتره لیکوالانو باندي داسي خیال کیږي چې په کلامونو کښې به یې تصوفي افکار خامخوا یي خو د دوی بشپړه شاعري لاتر اوسه نه ده تر لاسه شوې. یوه نیمه شعري ټوټه یې موږ لرو.

تر څو چې د سهېلي پښتونخوا په شاعري کښې د تصوفي افکارو اړه ده، د دې پېل هم له لومړۍ لرغوني دورې څخه کیږي. بلکې و سهېلي پښتونخوا ته دا ویاړ هم ورپه برخه دی چې د پښتو ادب د تصوفي افکارو پېل هم د داسي لیکوال په شاعري کښې دي، چې د سهېلي پښتونخوا سره اړه لري. خو دا یادونه اړینه ده چې دغه تصوفي افکار د تصوف ښېخي تته بڼه لري. د سهېلي پښتونخوا د دغه لیکوال نوم اسماعیل سړبنی دی چې په شاعري کښې اساسي تصوفي افکار په نظر راځي. د ده په شاعري کښې موږ ته د تزکیه نفس درس ورکول شوی دی چې ابلیس ته په کښې دښمن وئیل شوي دي. د اسماعیل سړبني په شاعري کښې دغه افکارو ته مو په دې اشاره وکړه چې په سهېلي پښتونخوا کښې د تصوف او تصوفي افکارو پېل په ګوته کړو، د کوم په هکله چې د ډاکټر عبدالرحمن کاکړ په پي ایچ ډي مقاله کښې ژور بحث شوی دی او د ابلیس په هکله یې د صوفیاوو نظر په ګوته کړئ دی. خو د اسماعیل سړبني دغه اشعارو ته حمد یا حمدیه کلام نه شو وئیلای ځکه تر دې راتېرېږو. البته تر ده له مخه د بېټ نیکه مناجات دي هغه ټول مناجات نه دي، په هغه کښې

ځيني داسي اشعار هم راوړل شوي دي چې په کښې د الله پاک د خالق او رازق صفات په کښې بيان شوي دي. لکه چې وايي:

هسک او زمکه نغښته ستا ده
د مړو وده له تاده
دا پالنه ستا ده خدايه!
لويه خدايه لويه خدايه! ( 2 )

پر دې اساس يې لږ برخه ته حمديه وئيلای شو. او د ښېټ نيکه مناجات د حمديه کلام ته د سهېلي پښتونخوا او ټول پښتو ادب لومړی حمديه کلام وئيلای شو. دا حمديه کلام تصوفي بڼه نه لري، ځکه نور بحث نه باندي کوو.

په سهېلي پښتونخوا کښې چې موږ ته لومړی بشپړه حمد د پير محمد کاکړ دی چې په کښې تصوفي افکار په ښکاره بڼه په نظر راځي. د دې لومړی سوب دا دی چې پير محمد کاکړ په خپله مذهبي عالم ؤ، ديني زده کړې يې کړي وې. له عالمانو او صوفياوو سره ناستي ولاړې يې تصوفي رحجان راپارولی او تصوفي ليکنو ته يې مخه کړې ده. دويم سوب يې دا دی چې پيرمحمد کاکړ د رحمن بابا پيروکار دی. په شاعري کښې هم د رحمان بابا د سبک پېروي کړې ده. ځکه يې په شاعري کښې اخلاقي او تصوفي افکار له ورايه په نظر راځي. خو د ده په شاعري کښې هم ده د رحمن بابا په څېر ډېر پېچلي، فلسفيانه او تصوفي افکار نه دي راوړل شوي.

تر څو چې په حمديه شاعري کښې د تصوفي افکارو اړه ده، پيرمحمد کاکړ د ديوان په لومړي حمد کښې د تصوف او معرفت په هکله داسي وايي:

"منور مي زړه په نور د معرفت کړه
په تاريکه توره خونه کښې روڼا را" (3)

له پورته شعر څخه دا په ګوته کيږي چې پير محمد کاکړ د تصوف سره مينه درلوده. ځکه يې د ديوان په سر کښې له تصوف سره خپله مينه څرګندلو دپاره په حمد کښې راوړې ده.
د پير محمد کاکړ يو مذهبي عالم او ليکوال ؤ، ځکه يې اشعار په ديني موضوعاتو پسوللي دي. ما په تيرو کرښو کښې يادونه وکړه چې د پښتو ژبي زياتره شاعرانو د خپلو ديوانونو او کلامونو په سر

کښې حمد راوړی وي، په زیاته د کلاسیکي دورې شاعرانو دا روایت ساتلی دی خو په اوسني پېر کښې کمبوت موندلی دی، خو پیر محمد کاکړ د دیوان په سر کښې دوه حمدونه راوړي دي.
د دیوان په سر کښې دوه حمدونه راوړل دا په ګوته کوي چې پیرمحمد کاکړ تر هر څه دا اړینه ګڼي چې د رب انس و جنس او رب کائنات او په هغه کښې د ټولو موجوداتو رب پېژندګلوي په سمه توګه وکړي چې ذاتي نوم یې الله دی. ولې ځوک چې خپل رب نه پېژني او د هغه په هکله معلومات ورته نه وي، هغه د رب بندګي په سمه توګه نه شي کولای. پر دې اساس پیر محمد کاکړ د الله پاک په هکله خپله عقیده څرګنده کړې ده. په دې کښې ځیني داسي عقاید هم شته چې تصوفي عقاید یې هم بللای شو.
پیر محمد کاکړ وایي:

ذات صفات د حق همه واړه قدیم دي
نور همه واړه حادث دي ماسوا(4)

د ذات الهي په هکله مباحث ډېرې زړې ولګې لري؛ له یوناني فلسفیانو څخه د ذات الهي په هکله مباحث شتون لري او په اوسني پیر کښې هم د فلسفیانو او علم الکلام د عالمانو له خوا پر دې ډېر څه لیکل شوي دي. خو علماء اسلام زیاتره د ذات الهي په هکله د دیني ادب د احکاماتو په رڼا کښې له دې څخه ډډه کړې ده او ذات الهي پر ځای یې صفات الهي بیان کړي دي. کومو علماوو چې د دې په باره کښې خپل نظرونه څرګند کړي دي، هغوی هم د فلسفیانو د ځینو پوښتنو په ځواب کښې خپله رایه ورکړې ده. په دې ډلو کښې یوه ډله اشعري ده چې ذات حق قدیم دی. د قدیم او حادث مباحث په تصوف کښې هم شته ځکه دا د تصوف، مذهب او فلسفې درې واړو موضوع بللای شو.
دغه ډول په همدې غزل کښې وایي:

نه دی جسم، نه جوهر دی نه عرض دی
نه مکان لري په ارض نه په سما
اشارت په هیڅ جهت کښې ورته نه شي
منزه دی له هنا له هاهنا(5)

خیر او شر هم ډېره زړه عقیده ده چې په نړۍ کښې د دې په هکله په بېلابېلو بڼو ډېر څه لیکل شوي دي. په اسلامي نړۍ کښې هم دا دوې عقیدې دي. ځیني خیر او شر ته په دې نظر ګوري چې د انسان

پر هيڅ کولو اختيار نشته بلکې ښه او بد دواړو کښې انسان مجبور دی. دی اختيار نه لري چې څه وکړي. ټوله اختيار له الله پاک سره دی. دا عقيده جبريه بلل کيږي. د دوی په ضد کښې چې کومه ډله ده هغه قدريه بلل کيږي. د قدريه عقيدې لرونکې مسلمانان په دې نظر دي چې انسان په خپلو اعمالو کښې اختيار لري. کوم عمل چې دی کوي په هغه کښې د ده اختيار دی. دی مجبور نه دی چې ښه کوي، که بد خو په خپل اختيار يې کوي. پيرمحمد کاکړ په دې هکله ليکي:

ښه او بد واړه د ده په اراده شي
په تخليق کښې دخل نشته د هيچا
ليکن رب په ښه راضي په بدۍ نه وي
اعتقاد دې کړي مومن په دا وينا(6)

په تصوف کښې يوه نظريه، نظريه رويت الهي ده. ځيني صوفياء دا دعوه لري چې په دې دنيا کښې د رب ذوالجلال د ذات د تجليانو ليدل ممکن دي. د رويت الهي دپاره بېلابېل دلائل وړاندي کړل شوي خو د معتدل صوفياء او علماء ظاهر له خوا د دې انکار کيږي. دوی په دې عقيده دي چې رويت الهي په دې دنيا کښې هيڅ امکان نه لري البته په هغه دنيا کښې خدای جنتي انسانانو ته خپل جمال ورښکاره کوي. پيرمحمد کاکړ په دې باره کښې وايي:

ملا عبدالسلام عشېزی د سهېلي پښتونخوا يو بل داسي نامتو شاعر او مذهبي لارښود دی چې له دين مبين سره سره يې له خپلي ژبي سره هم مينه د شعر په ژبه کښې وړاندي کړې او د تل دپاره يې خوندي کړې ده.

د ده په شاعري کښې اساسي تصوفي نظريات په نظر راځي خو په ډېره ساده بڼه کښې تصوفي او روحاني افکار راوړي دي. د ده د حمديه شاعرۍ څخه نمونې راوړو چې په کښې تصوفي افکار راوړل شوي دي يا د تصوف سره مينه څرګنده شوې ده. ملا عبدالسلام عشېزی وايي:

په شپه نه کيږي مزل د زړه بې څراغه
لکه قبر تياره خونه ده دنيا(7)

بل ځای وايي:

حاذقان باطل روښان حکيمان وايي

شته د موږ سره د ړندو سترګو دوا(8)

چې د ځان کمال ګڼو د کریم ورکړه

د غرور په ختو ډوب شو ما و تا

ما رمیت اذ رمیت نفي ویني

ارواحانو داسي موږ قالو بلی

اهلیت نه غواړي شرط چې داد پر وشي

قطمیر کښېنوي پر څنګ د اولیا(9)

ملا عبدالسلام عشېزی په دې عقیده دی چې هر څه دخدای په اراده کېږي. د انسان اهلیت یې شرط نه دی بلکې د الله تعالی فضل او کرم د بریالیتوب له پاره اساسي شرط دی. په لوړو راوړل شوو اشعارو کښې یوه مشهوره تصوفي نظریه چې نظریه میثاق ورته وئیل کیږي، ته اشاره شوې ده. او په همدغه شعر کښې دا په ګوته شوي چې په جهاد بدر کښې الله پاک څه ډول د مسلمانانو نصرت وکړئ، هغه د اسلامي تاریخ یو ځلانده باب دی. دغه ډول یې د اصحاب کهف و سپي ته اشاره کړې ده. اصحاب کهف چې په قرآن کښې ذکر راوړل شوی دی، دا په ګوته کوي چې په هغه وخت کښې پر احکام الهي عمل کوونکي پاته شوي ؤ، له دوی سره چې کوم سپی ؤ، د هغه ذکر د قرآن مجید په سوره کهف کښې راوړل شوی دی.

په صوفیانه ادب کښې هم پر دې خبره زور ورکول کیږي چې د اولیاوو صحبت د سړي پر ژوند اثر کوي. دا ډول که مرید باندي د مرشِد نظر کرم وشي، نو هغه سالک زر پر مخ تګ کولای شي.

د سهېلي پښتونخوا یو بل نامتو لیکوال او شاعر چې صوفیانه مزاج لري او په شاعري کښې تصوفي افکار راوړي دي، سعیدګوهر دی. د سعید ګوهر کمال دا دی چې نه یې یوائې د شاعرۍ پیغام زور آور دی بلکې شاعري یې په فني حواله هم هیڅ نیمګړتیا نه لري، ځکه لوستونکي باندي زیات اغېز کوي. د ده په شاعرۍ کښې دیني، اخلاقي او تصوفي اشعار راوړل شوي دي خو په ډېره پېچلې او فلسفیانه بڼه نه لري سعید ګوهر له تصوف سره عملي مینه لرله او له صوفیاوو او اولیاوو سره یې راسه درشه هم لرله خو بیاهم یې په شاعري کښې ژور تصوفي اصطلاحات په نظر نه راځي. په خپل یوه حمد کښې چې لږ ډېره تصوفي بڼه هم لري، داسي وایي:

"له خپله ځانه څخه ورک یمه خو تا لټوم

ته په هر څه کښی راته ښکارې
خو هيڅ ځاې هم نه ئې
آغاز هم ته ئې د قيصې
د قيصې پاې هم ته ئې
زۀ يم د"ج" دميان نقطه
جلا وطن او جدا
د خپل وجود سره موجود يم
که معدوم يم؟
څه وئيلی نه شم
ځان هيرولی نشم ، تا پيدا کولی نه شم"(10)

د سهېلي پښتونخوا يو بل شاعر، ليکوال او مذهبي عالم محمد حسن ضياء ګانګلزی دی. مذهبي علومو سره سره يې په تصوف کښې باقاعده عملي ګامونه پورته کړي. په شاعري کښې مذهبي رنګ غالب دی او مذهبي موضوعات يې په کښې راوړي دي. له تصوف سره عملي اړيکې لرو له سوبه يې په شاعري کښې بېلا بېل تصوفي مباحث راوړي دي. خو بياهم داسي پېچلي تصوفي اصطلاحات نه دي په کښې راوړل شوي.

د سهېلي پښتونخوا د ځيني شاعرانو په شاعري کښې داسي مناجات راوړل شوي دي چې په هغه کښې حمديه اشعار هم راوړل شوي دي. دغه ډول د محمد حسن ضياء ګانګلزي په شاعري کښې هم يو مناجات دی چې حمديه اشعار هم لري. ليکي:

په اخلاص يو عابدان ته مي معبود يې
بل در نشته و اياک نستعين
نه يې غواړو يو په وام ستا له غضبه
هغه لار چې پرې روان دی شياطين
د شيطان له فريبو سه امان غواړو
هم دغه رنګه وايو والاالضالين

د دې دور یو بل لیکوال عبدالهادي عطایي ملا دی، چې شاعري یې د سوز، میني او حسن شاواخوا راچورلي، تصوفي افکار یې په شاعري کښې ځای کړي دي. د ده په شاعري کښې راوړل شوي تصوفي افکار تر اوسه نه دي رابرسېره کړل شوي؛ یوه او نیمه مقاله باندي لیکل شوې ده بیاهم نورو څېړونو ته اړتیا لري.

د ده له شاعرۍ څخه یوه نمونه دلته راوړو چې مناجاتي، حمدیه او تصوفي بڼه لري. وایي:

دربولې م، دروې مي، زه قاصد د نذرانې!
قرباني د عشق نامه ته
شهادت مي په تندي کي
غر د میني مي په شا دی
د ګل بوی مي په غوزي کي
و درشل ته یې درورمه، روان زه خو "قدم ستا" دی(11)

د هادي ملا شاعري که څه هم د عشق، میني او حسن موضوعاتو غالب رنګ باندي خور دی، لکه فنا، توبه، او داسي نوري تصوفي نظریې. خو د تصوف نوراساسي موضوعات لکه زهد، توبه، اخلاص، ریا، د دویي احساس او داسي نور یې هم راوړي دي.

د هادي ملا په شاعري کښې ډېر تصوفي اصطلاحات هم په نظر راځي چې په کښې شاعرانه تصوفي اصطلاحات هم پر لویه پیمانه په کښې راوړل شوي دي.

**پایله:**

د حمدیه شاعرۍ روایت په پښتو ژبه کښې له لرغوني پیر څخه پېل شوی دی. د پښتو ادب د لرغوني دورې یا لومړۍ دورې شاعرۍ ډېرې نمونې په لاس کښې نه لرو، له دې سوبه یې حمدیه شاعري کښې تصوفي افکار تر اوسه نه دي رابرسېره شوي. خو دا خبره په نظره کښې نیول اړین دي چې تذکرة الاؤلیاء نومي کتاب موږ ته دا را په ګوته کوي، چي په دې کتاب کښې د اولیاوو ذکر دی. که څه هم په دې کښې راوړل شوې ټول لیکوالان او شېخان تر موږ پوري نه دي رارسېدلي.یواځې څوپانې په لاس کښې لرو. په دې کښې د سهېلي پښتونخواه د کوه سلیمان له سیمي سره اړه لرونکو ځینو لیکوالانو د

شعر نمونه راوړل شوې ده چې صوفيانه افکار هم په کښې تر سترګو کيږي خو حمديه کلامونه او په هغوی کښې صوفيانه افکار لاتر اوسه نه دي په ګوته شوي. په دې سوب روښاني دوره کښې داسي حمدونه د نمونې دپاره وړاندي کولای شو چې په کښې صوفيانه افکار زيات ځای کړل شوي دي.

له روښاني دورې وروسته، د پښتو ژبي زرين دور پيل کيږي چې کلاسيکه دوره هم ورته وئيل کيږي. صوفيانه افکار چې څومره په روښاني دوره کښې د روښاني پيروکارانو له خوا رامنځ ته شوي دي، هغه د پښتو ژبي او ادب د صوفيانه افکارو د عروج دور بللای شو. تر هغه راوروسته دوره کښې، له پښتو ادب سره تړلو ليکوالانو و صوفيانه افکارو ته په دومره لويه اندازه کار نه دی کړئ. بيا هم په کلاسيکه دوره کښې د ځينو ليکوالانو او شاعرانو له خوا پالل شوی دی. په کلاسيکه دوره کښې د پښتو په شعر کښې د موضوع له لاري تنوع راغلې. په دې پير کښې عبدالقادر خان خټک، کاظم خان شيدا، رحمان بابا او علی خان په شاعرۍ کښې صوفيانه افکارو ته ځای ورکول شوی دی. البته د تصوف ځيني اساسي موضوعات او نظريات د زياترو شاعرانو په شاعرۍ کښې په نظر راځي. لکه د خوشحال خان خټک په شاعرۍ کښې ډېر داسي اشعار شته چې پخه تصوفي بڼه لري. د دوی په حمديه کلامونو کښې هم ځيني تصوفي نظريات او افکار شتون لري او ما يې څه نمونې د مقالې په تمهيد کښې هم راوړي دي.

د سهېلي پښتونخوا پښتو شاعري له فولکلور څخه پېل کيږي. په دې سيمه کښې په ځانګړي توګه هغه سيمه چيري چې ډېر غالب اکثريت کاکړان اباد دي، له فولکلوري پلوه ډېره غني سيمه ده. په دغه فولکلوري پانګه کښې ژور روحاني افکار شتون لري. د اسلام له سپېڅلي دين مخکي پر دې سيمه نور اديان او تهذيبونه تېر شوي ځکه يې روحاني اثرات په فولکلور کښې خال خال په نظر راځي. وئيلای شو چې د سهېلي پښتونخوا د روحاني اثراتو پېل له فولکلور څخه راپېل شوی دی.

تر څو چې په سهېلي پښتونخوا کښې د حمديه تصوفي شاعرۍ خبره ده، په سهېلي پښتونخوا کښې که څه هم شعري روايت زوړ دی او پر لويه پيمانه شاعري شوې ده، خو تصوفي بڼه لرونکې شاعري يې لږ ده. د ګوتو په شمېر ځينو شاعرانو په خپله شاعري کښې تصوفي افکار ځای کړي دي. دا مقاله د سهېلي پښتونخوا د داسي حمديه شاعرۍ په هکله ده چې تصوفي بنه هم لري، په دې سوب داسي ليکوالان نور هم لږ دي.

د سهېلي پښتونخوا په پښتو حمدیه تصوفي شاعرۍ کښې پیرمحمد کاکړ لومړی شاعر دی چې دا ډول افکار یې په شاعرۍ کښې په نظر راځي. پیرمحمد کاکړ د دې سیمې لومړی باقاعده دیني عالم دی چې د دیني زده کړو سره سره له ژبې او ادب سره د شعر په ژبه کښې مینه څرګنده کړې ده او دومره شهرت یې تر لاسه کړۍ دی. د سهېلي پښتونخوا د لومړي پښویه لیکونکي دغه شاعر په شاعرۍ کښې تصوفي افکار هم شته.

پیرمحمد کاکړ د حمدیه شاعرۍ روایت ساتلی دی او حمدونه یې لیکلي هم دي. له تصوف سره اړیکو له سوبه یې په حمد کښې هم ځیني داسي مباحث راوړي چې د فلسفې، تصوف او کلام له اساسي مباحثو څخه ګڼل کیږي. د ده په حمدیه شاعرۍ کښې ژور تصوفي افکارو پر اساس وئیلای شو چې په سهېلي پښتونخوا کښې د پښتو شاعرۍ لومړی اساس مذهبي او بیا ورته تصوفي وئیلای شو.

د پیرمحمد کاکړ وروسته په پښتو شاعري کښې حمدیه شاعري شوې ده، زیاتو شاعرانو په خپله شاعري کښې حمدیه کلامونه راوړي دي. دغه روایت تر اوسني پېر پوري رارسېدلی دی. خو په حمدیه شاعري کښې تصوفي او فلسفیانه مباحث نه دي راوړل شوي. د دې سوب ښایي دا یي چې دلته د صوفیانه شاعرۍ روایت زیات نه دی پالل شوی، له دې سوبه یې په حمدیه شاعرۍ کښې پاخه تصوفي افکار لږ لږ په نظر راځي.

# حوالې

(1) رحمان بابا ، دیوان، سریزه حبیب الله رفیع، صدیقي خپرندویه ټولنه، کوټه، مئی ۲۰۱۰، مخ ۱۰۲

(2) ماکو، سلیمان، تذکرة الاولیاء، سریزه عبدالحی حبیبي، د علامه حبیبي د څېړونو مرکز، ۲۰۰۰، مخ ۲۴

(3) پیر محمد کاکړ، دیوان، سریزه، حبیب الله رفیع، صحاف نشراتي موسسه کوټه، ۱۳۸۲،مخ ۴۶

(4) همدغه

(5) همدغه ،مخ ۴۷

(6) همدغه

(7) اشېزی، قاضي ملاعبدالسلام، سوسن چمن، سریزه او لمنلیکونه، ډاکټر عبدالرؤف رفیقي، دوست پبلشرز کاسي روډ ، کوټه، جنوري ۲۰۱۹، مخ ۶۵

(8) اشېزی، قاضي ملاعبدالسلام، سوسن چمن، سریزه او لمنلیکونه ، ډاکټر عبدالرؤف رفیقي، دوست پبلشرز کاسي روډ ، کوټه، جنوري ۲۰۱۹، مخ ۶۵

(9) همدغه ،مخ ۴۶-۴۷

(10) ګوهر سعید ، په څیری لمن کنبې اُمید ، یونائیټیډ پریس کوټه، ۲۰۰۰ ،مخ ۲۹

(11) ملا، عبدالهادي عطایي، د وخت ضرب، ځلاند خپرندویه ټولنه، کاسي روډ ، کوټه، ۲۰۱۸، مخ ۲۶